مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

رڼا ګل اریوبزی
۲۰۲۱/۰۱/۱۲

# د خوشال ختک عقیده

## او سیاسي فلسفه

## دوهمه برخه

## خوشال خان دوطن، پښتون او پښتو په وړاندي

### الف – خوشال خان دوطن په وړاندي:

خوشال خان دوطن سره مینه دایمان برخه ګڼله اود هغي يي سمه پالنه کوله. څوک چي دخپل هیواسره مینه لري یاني دخپل ټا ټوبی، کلتور،ژبه، او تاريخي ارزښتونه ساتي او پالي، د وطن پالونکي نوم ګټي. وطن پالونکی په دي پسي نه ګرځي چي وطن يي ده ته څه ورکوي، کوم مقام او کوم امتیاز يي په برخه کوی، خو دی په خپله وطن ته هر څه ور کوي او دخدمت په لار کي يي هيڅ نه دريغوي. په دې لحاظ ننګیالی بابالوی وطن پالونکی و. خپلي خاورې او ولس ته يي ډيرڅه ورکړي دي اوبې ساري خدمتونه يي ورته کړي دي. د خوشال وطن په هغه وخت کي دمغولو امپراتوری یوه برخه وه، ملي دولت، ملي سمبولونه، ملی بيرغ او تاريخي جشنونه اوسیاسي سر حدونه يي نه در لودل، خو چرته چي افغان استوګنه کوله هغه يي خپل هیواد اوخپله خاوره بلله نو ځکه يي په شعرونو کي هم ملي دولت اوملي سمبولونو انعکاس نه دی موندلی او دهغو په ځای يي دخپل هیواد طبعيت، ښکلو منظرو، دنګوغرونو، مستو سندونواوښواو یارانو په زړه کي ځای نیولی دی اوهغه يي په خپلو شعرونو کي داسي ستایلي دي :

| | |
|---|---|
| د وطـــن مـــیـنـــه ای جانه | را پــیـــد ا ده لـــه ایـمـانـه |
| هغه ملک دزړه ارمان وي | چي پکي دي ښه یاران وي |
| نه دخـپـل وطـن خاورونه | نـه د بـل وطـن ګــلـونـه |
| نه دخپل ديار ګور ګري | نـه د بـل د يـا ر شــکـري |
| نـه د خپـل د يـا ر حجر | نـه د بـل د يـا ر ســره زر |

(د خوشال ختک کلیات، ۸۳۸ مخ)

بابا ته خپل وطن دومره ارزښت لرى چي ډېري يي په سروزرو مني، دګورګرو نه يي دشکرو او له اغزيو اوخارونو نه يي د ګلونو خوند اخلي او دښو يارانو تر منځ په دې دیارکي دژوند کولو مزې داسي بيانوي :

| | |
|---|---|
| نا ست په ګلزارکي يارپه کنا ر کي | با ده ګردانـــه مطرب په کار کي |
| دا حال چي زه لرم په خپل ديارکي | باد شاه يي نه لري په هندوبار کي |

(د خوشال ختک کلیات،۵۲۶ مخ)



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولئ

بابا که هر ځومره دخپل وطن دغرونو، رغونو، دښتو ، درو او سندونو ستاینه کړې ده اوخپل دیار ورته ګلزار او دشاهانو له دربار نه ښکلی او وچت ښکاریده، نو په دې کې یې یوازې خپله شخصي مینه او خپل ذوق بیان کړی دی او د نورو متفاوتو مینو اوذوقون درناوی یې ساتلی دی.د بیلګې په توګه دخپل وطن، په تیره بیا دسرای په هکله لیکي چې :

که دسرای مځکه سنګزار ده وخوشال وته فرخار ده
دا بهـار لکـه د سـرای دی هسې کله د بل ځای دی

(د خوشال خټک کلیات،۸۳۹ مخ)

په بل ځای کې لیکي چې:

د وطـن ونـې چنـد ن ا کـر دي خاورې یې واړه مشق وعنبر دي
که سرای ونورو، وته سنګیر دی کا نی یې واړه ما ته سره زر دي

(د خوشال خټک کلیات، ۴۸۰ مخ )

خوشال خان دخپل وطن بیلابیلوبرخو ته سیاسي اوخیرنیز سفرونه کړي دي اود هغوی له هواوطبعی ښکلا سره له نږدې اشناو. دهیواد جغرافیه، ښارونه،غرونه، رغونه اوسندونه یې پیژندل او دهغوی له هوا اوښکلا څخه یې خوند اخیست. کله چې، له خپل خواږه وطنه جلا او لرې، د هندوستان درنتبور په جیل کې زنداني و، دهغه په فراق کې یې داسې ترانې ویلي دي :

هغه باد چې کابل خیز دی په ما واړه عنبر خیز دی
څوک چې یاد کاندي کابل په کـوکـل مـې شي غلغل
څوک چې یاد کړي پیښور زړه زمـا شـي منـور
څوک چې یاد کاندي اټک قـافـیـه کـړم د خـټک

(د خوشال خټک کلیات، ۸۴۹ مخ )

په بل ځای کې لیکي چې:

د کا بـل واړه رو د و نــه د کـونـړ د صوات سندونه
سره یو شي په سرای راشي د سـیحون سـره یکجا شي
نـه يې غږ نه يې نا رو شته په هرجام کې یې دارو شته
چې يـې ښبي، پکې شنا کا مـا د ی یـا د هغه اشنا که

(د خوشال خټک کلیات،۸۴۳ مخ)

که له یوې خواد بابا دسر کاسه دعلومو، ژورو فکرونواو لوړو رنګینو خیالونونه ډکه وه نو له بلې خوا یې دزړه په دهلیزونو کې دبشریت، په تیره بیا دخپلې خاورې او ټبرسره پاکې او بې پایه مینې ځای نیولی و او خبل برخلیک یې دخپل قوم او خپلې خاورې د برخلیک سره دهمدې مینې په ځنځیرونو تړی و.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ